الدرس الثالث — رديم درس

أوقات الصلاة — د مانځه وختونه:

*د ماسپخين د مانځه وخت د نمر د زوال نه (يعني كله چې نمرد آسمان د مينځ نه مغرب طرفته مائله شي) تردى چې د هر څيز سورى د هغى مثل ته ورسيږى ، د مازيګر د مونځ وخت چې د هر څيز سورى دهغى يو مثل ته ورسيږى نه شروع كيږى تر د نمر پريوتو پورى .

*د ماښام د مانځه وخت د نمر دپريوتو نه تر شفق پريوتو پورى وى ،(شفق هغه سرخى د آسمان ته وائى چې په كنارو كښې مغرب طرفته ښكاره كيږى)*د ماسخوتن د مانځه وخت د شفق د پريوتونه تر نيمى شپې پورى دى ، د سَهر د مانځه وخت د صباء د راختو نه تر نمر راختو پورى دى ، هغه ځايونه چې مونځ كول پكښې جائز ندى :

(١) مقبره : د نبي كريم ﷺ ددى وينا د وجى نه چه :« ترجمه » په ټوله زمكه باندى مونځ كول جائز دى مګر حمام (غسل خانه) او مقبره كښې جائز ندي ، البته د جنازي مونځ په مقبره كښې جائز دي رواه الخمسة.

(٢) قبر ته مخامخ مونځ كول جائز ندى ، د ابو مرثد غنوى رضى الله عنه نه روايت دي ، هغه وائى چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى :«ترجمه » د قبرونو طرفته مونځ مه كوئ او مه قبرونو باندى د پاسه كينئ رواه مسلم ٢٢٩٥:.

(٣) د اوښانو په غوژل (پنغاړى) كښې د مانځه نه منع راغلې ده لكه څرنګه چې په ګنده ځايونو كښې مونځ كول جائز ندى .

هغه وختونه چه مونځ كول پكښې جائزندى :

(١) د صبا د مونځ نه پس ترنمر راختو پورى چه د نيزى په مقدار پورى وچت شي

(٢) د غرمى په وخت كښې چه كله نمر دآسمان مينځ ته ورسږى ، او دا اندازه به دسورى نه معلوميږى.

(٣) د مازيګر د مونځ نه پس تر د نمر پريوتو پورى ، ليكن پدى اوقاتو د منع كښې بعض مونځونه جائزدى چې هغې ته سببى مونځونه وائى لكه : تحية المسجد (مسجد ته دراتللو په وخت كښې دوه ركعاته كول) د جنازى مونځ ، صلاة الكسوف (نمر د تندر نيولو مونځ) ، دوه ركعاته د طواف نه پس كول ، او د اودس نه روستو دوه ركعاته كول ، د استخارى مونځ او ددي نه علاوه دغه رنګه هغه فرض مونځونه چه فوت شوى وى دوجې ددي وينا د نبي كريم ﷺنه ترجمه : د چانه چې مونځ هير شي او يا د مونځ نه اوده پاتي شي ، نو كفاره ئى داده چې اداء دِې ئى كړى كله چې ورته راياد شي ، متفق عليه. او دغه رنګه قضاء دسَهر سنتو لكه څنګه چې د ماسپخين قضاء شوى سنت د مازيګرنه روستو جائز دى.